مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محب‌الله زغم

۲۰۲۳/۱۱/۰۴

ماهیان مه ورکوه،

د ماهي نیولو چل وروښییه

نه پوهیږم، چې دا د کوم قوم وینا ده؛ خو غوره وینا ده. وایي، که غریب ته ماهیان ورکړي، نو یوه ورځ به مور شي؛ خو که د ماهي نیولو چل وروښیي، هره ورځ به مور وي. د ډاکتر نجیب الله د حکومت وروستي کلونه وو، زما د یوه ټولګیوال پلار وفات شوی و، جنازې ته یې ورغلو. دا اول ځل و، چې زه د پردي سړي جنازې ته تللی وم. له هدیرې چې بېرته راوګرځېدو، د هغه ماما ګانو په زوره کور ته بوتلو، غټ دېګونه یې باندې کړي وو. ویل یې چې مور خیرات کړی دی، هېڅوک به چېرې نه ځي. ما په سختۍ سره څو ګولي له مرۍ تېرې کړې. ما باندې د خیرات نوم ښه نه لګېده، دا مقوله مې هم نه وه اورېدلې، چې وایي: ((خیرات هم پر شاه باندې او هم پر ګدا باندې روا وي)) ما داسې احساس کاوه، چې د ډوډۍ هره ګوله زما د غرور یوه ټوټه ماتوي. د خیرات خوړل ما ته د سوال په مانا وو. زما په نظر پخوا به اکثرو افغانانو همداسې غرور درلود. دوی ته د دوی همت اجازه نه ورکوله، چې چا ته دې لاس اوږد کړي؛ خو جګړو له خلکو څخه دغه همت واخیست. داسې وخت هم راغی، چې مالدار او غریب ټول په خیراتونو روږدي شول.

اوس هم بهرنۍ مرستې کله کله لکه خیرات وي او خلك بې همته کوي. له خلکو سره د مرستې تر دې ښې لارې هم شته. امریکا هر کال پینځه زره بهرنیان د لاټرۍ په ویزو ورغوړي، دوی دغو کسانو ته اړتیا لري، چې هلته کار وکړي. کانادا هم د کار لپاره کافي وګړي نه لري، دوی هم د خپلو فابریکو د چلولو لپاره د نورو ملکونو ځوانانو ته ضرورت لري. عربي هیوادونو ته هم د نورو هیوادونو کاریګر په کار دي.

افغانستان کې بیا ګڼ شمیر ځوانان له بیکارۍ څوړېږي، دوی اکثراً په ناقانونه توګه ایران ته اوړي او که د ایرانیانو له ګزمې بچ شول او ښارونو ته ژوندي ورسېدل، بیا په وېره کې ژوند کوي، په کمو پیسو زیات کارونه کوي او څو میاشتې یا کال چې یې تېر کړ، ((رد مرز)) کېږي، پیسې یې له بادار سره پاتې کېږي او پخپله تش لاس وطن ته راستنېږي، ګټه یې دا کړې وي، چې په ترياکو یا هیروییو روږدي شوي وي. ځینې ځوانان بیا د خپلو طلایي خوبونو د پوره کولو په خاطر اروپایي ملکونو ته په قاچاق ځي او په دې نه وي خبر، چې د سمندر د ماهیانو خوراك به شي، که به خپلې موخې ته ورسېږي.

مور د کار او ټولنیزو چارو په نوم وزارت لرو. که دغه وزارت له هغو ملکونو سره وغږېږي، چې کاریګر ته ضرورت لري، لوی ثواب به یې کړی وي. افغانانو ته به د دې کار ګټه دا وي، چې له یوې خوا به په قانوني لارو د کار روزګار څښتنان شي او له بلې خوا به د نورو ملکونو له تمدن او فرهنګ سره اشنا شي، د هغوی تجربې او مهارتونه به زده کړي او له ځانه سره به یې راوړي.

دغه کار به نورو ملکونو ته هم ګټه ورسوي. دوی ته به افغان کارګران د حکومت له لارې وروپېژندل شي؛ نو د القاعده او تروریزم له خطرې به بچ وي. افغان حکومت کولی شي، له هغو کسانو، چې د کار لپاره یې بهر ته لېږي، دلته قوي ضمانت واخلي، چې هلته به ورانۍ نه کوي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

البته حکومت ته بویه، چې د نورو ملکونو له اړتیا سره سم کاریګر ورته وروزي. د افغانستان او د نورو هېوادونو په معماری، نجاری او نورو کسبونو کې به ډېر توپیرونه وي، حکومت باید خپل کسان د نورو ملکونو له غوښتنو سره سم په کارونو پوه کړي او بیا یې ورولېږي.

ممکن د کار او ټولنیزو چارو د وزارت غوښتنه د نورو هېوادونو له خوا ومنل شي یا ونه منل شي؛ خو وزارت باید خپله غاړه خلاصه کړي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ